# الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، -ثلاثًا-»، وَمَا مِنَّا؟ إِلَّا، وَلَكِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ. «بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی،- درې ځلې» او زمونږ څخه هېڅوک داسې نشته مګر دا چې، الله جل جلاله يې په توکل سره له منځه وړي

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، الطِّيَرَةُ شِرْكٌ، -ثلاثًا-»، وَمَا مِنَّا إِلَّا، وَلَكِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يُذْهِبُهُ بِالتَّوَكُّلِ. «بد فال نيول شرک دی، بد فال نيول شرک دی،- درې ځلې» او زمونږ څخه هېڅوک داسې نشته مګر دا چې، الله جل جلاله يې په توکل سره له منځه وړي.

[صحيح] [ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د بد فال نيونې په اړه خبرداری ورکړی دی، او هغه بد انګېرل دي که هغه له اورېدلو څخه وي يا د ليدلو څخه، او يا له مرغانو، حيواناتو، مصيبت ځپلو، شمېرو، ورځو او داسې نورو څخه وي. خو له الوتونکي مرغه يې ځکه يادونه وکړه چې د جاهليت په زمانه کې مشهور و، په اصل کې به چې کله هغوی په کوم کار پيل کاوه لکه سفر، سوداګري او داسې نور، نو مرغه به يې خوشې کړ، که چېرته به ښي لور ته والوت نو نيک فال به يې ونيوه او خپل کار پسې به روان شو، او که چېرته به چپ لورې ته والوت نو بد فال به يې ونيوه او له خپل کار څخه به لاس په سر شو. او خبر يې ورکړ چې دا کار شرک دی، او بد فال نيول لدې امله شرک ګڼل شوی؛ چې هر خير الله پېښوي، او هېڅوک شر نه شي دفع کولی مګر يوازې يو الله دی چې شريک نه لري. او ابن مسعود رضي الله عنه يادونه وکړه چې کېدای شي د مسلمان په زړه کې يو څه بد فال راشي، خو بايد په الله جل جلاله يې په توکل کولو سره دفع کړي، د اسبابو له کارولو سره.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3383

النجاة الخيرية ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية EDC E-Da'wah Committee